Partneriaeth Mewnfudo Strategol Cymru

# د ویلز د مهاجرت ستراتیژیک مشارکت

**د کډوالو، پناه غوښتونکو، مهاجرینو او نورو لپاره د خوندیتوب او ملاتړ په اړه معلومات کوم چې د خپل خوندیتوب او امنیت په اړه اندیښنه لری.**

دا معلومات د ویلز د مهاجرت د ستراتیژیک مشارکت لخوا راټول شوي او د بدلون تابع دي کله چې نور معلومات موږ ته موجود شي.

## اوسمهاله اندیښني

**که هغه حالت چې تاسو پکښې یاست د زور زیاتي حالات وي یا یو څوک په ژر پیښیدونکي خطر کې وي، ژر تر ژره ۹۹۹ ته زنګ ووهئ**

## د نفرت جرمونه

**د نفرت جرمونه څه دي؟**

د نفرت جرمونه د هر هغه جرم په توګه تعریف شوي چې د قرباني یا کوم بل چا لخوا داسي وانګیزل شي چې د لاندي دلیلونو له وجې ترسره شي:

- معلولیت
- تبر یا قوم
- دین یا عقیده
- جنسی تمایلات
- ترانسجندر (د جنسیتي بدلون) پیژند

هرڅوک کولی شی د نفرت د جرم قربانی شي، او لازمه نده چې قرباني د هغه ډلي برخه وي کومه چې د زور زیاتی موخه ګرځي.

**ولي باید تاسو د نفرت د جرمونو راپور ورکړئ؟**

د نفرت د جرمونو پیښي کیدی شي ویروونکي وي او د هغو راپور ورکول بدلون رامینځته کوي.
د دي په راپور ورکولو سره تاسو په راتلونکی کي نورو ته د دي پیښو د ترسره کیدو څخه په مخنیوي کي مرسته کوئ او له پولیسو سره مرسته کوی چي ستاسو په سیمه کي د نفرت د جرمونو په کچه پوه شي.

**پولیس**

په ویلز کي څو لارې شته چې تاسو د نفرت د جرمونو راپور ورکړئ. تاسو کولی شئ د نفرت د جرمونو په هکله په مستقیمه توګه پولیس ته راپور ورکړئ. د راپور د ورکړې لپاره ۱۰۱ شمیرې ته زنګ ووهئ، یا د پولیس مرکز ته ورشئ، یا یو د لاندې آنلاین لینکونو له لارې راپور ورکړئ:

[د نفرت د جرمونو را پور څرنګه ورکړئ | د جنوبي ویلز پولیس (south-wales.police.uk)]

[د نفرت د جرمونو را پور څرنګه ورکړئ | ډایفید- پوویس پولیس]

[د نفرت د جرمونو را پور څرنګه ورکړئ | د شمالي ویلز پولیس]

[د نفرت د جرمونو را پور څرنګه ورکړئ | ګوینت پولیس]

[د نفرت د جرمونو راپور ورکړئ | د برتانیي پولیس (www.police.uk)]

"ټرو ويژن" د پولیس تمویل شوې ويبپاڼه ده چې د نفرت جرمونو سره د خلکو مرسته وکړي:
[Stop Homophobic, Transphobic, Racial, Religious & Disability Hate Crime - True Vision (report-it.org.uk)]

**د نفرت د جرمونو راپور او د قربانیانو ملاتړ.**
یو شمیر خیریه بنسټونه شته چې کولی شي مرسته وکړي چې د نفرت د جرمونو راپور ورکړئ او ستاسو ملاتړ وکړي.

د نفرت د جرمونو د قربانیانو ملاتړ: Contact – Wales Hate Crime (victimsupport.org.uk)
د قربانیانو د ملاتړ کرښه: ۰۳۰۰۳۰۳۱۹۸۲
ایمیل: Hate.CrimeWales@victimsupport.org.uk

د نفرت د جرمونو د راپور ورکولو سره مرسته او ملاتړ: Home - Stop Hate UK
۲۴ ساعته پرانیستي مرستندویه کرښه: ۰۸۰۰۱۳۸۱۶۲۵
پیغام: ۰۷۷۱۷۹۸۹۰۲۵
ایمیل: talk@stophateuk.org

بې نومه د جرمونو راپور ورکول: Independent UK charity taking crime information anonymously | Crimestoppers (crimestoppers-uk.org)
تلفون: ۰۸۰۰۵۵۵۱۱۱

**د مسلمان ضد نفرت په اړه ملاتړ:**
د مسلمان ضد نفرت په هکله ملاتړ: Tell Mama: Report in Anti-Muslim Hate or Islamophobia (tellmamauk.org)
تلفون: ۰۸۰۰۴۵۶۱۲۲۶
پیغام: ۰۱۱۵۷۰۷۰۰۰۷
واتساپ ۰۷۳۴۱۸۴۶۰۸۶
ایمیل: info@tellmamauk.org

**د انټرنټ نفرت وینا، د نفرت جرم او انلاین ناوړه څورونه**
په انټرنټ د نفرت بیان او د نفرت جرمونو د راپور ورکولو په اړه معلومات: Report Harmful Content - We Help You Remove Content

**د پناه غوښتونکو او نامل پناه غوښتونکو ماشومانو ملاتړ**
که تاسو په ژر پېښیدونکي خطر کې یاست، **په ۹۹۹ شمیره له پولیسو سره اړیکه ونیسئ.** که نه، نو تاسو کولی شئ د ملاتړ لپاره له خپل ټولنیز کارکوونکي/ شخصي مشاور سره اړیکه ونیسئ.

**لویان پناه غوښتونکو**
**کلییرسپرنګس رېډي هومس**
که تاسو په ویلز کې پناه غوښتونکي یاست، ستاسو د استوګني چمتو کونکی کلییرسپرنګس رېډي هومس دئ. که تاسو د هغه استوګنځي په اړه کومه اندیښنه لرئ چې تاسو پکې اوسیږئ یا د نا امنی احساس کوئ، لومړی د خپل استوګنځي له مدیر سره اړیکه ونیسئ. تفصیلات به تاسو ته د معرفی په بکسه کې چمتو شوي وي.

**د مهاجرینو مرسته (مایګرنټ هیلپ)**
پناه غوښتونکي کولی شي د مهاجرینو مرستې ته ۷/۲۴ لاسرسی ترلاسه کړي. د اندیښنو یا حفاظت د اړتیاوو لپاره، تاسو کولی شئ **د چټک غبرګون مرکز سره په ۰۸۰۸۸۰۱۰۵۰۳ شمیره رابطه وکړئ** یا د هغوی د ویبپاڼي له لارې: Contact | Migrant Help (migranthelpuk.org).

**د مهاجرینو مرسته پناه غوښتونکو ته مشوره ورکوي چې په لومړی سر کې د استوګنځي اړوند د هرې مسئلې په هکله د "کلییرسپرنګس رډي هومس" سره اړیکه ونیسي.**

**نور منابع**
**"نیشن آف سنکچوري"**
د سیکچوري ویب پاڼه معلومات ورکوي چې په ویلز کې څرنګه خوندی پاته شئ:
Sanctuary | Staying safe (gov.wales)

**د ذهني ناروغینو ملاتړ**
د عاجلي ذهني روغتیا د ملاتړ لپاره "د ملي روغتیا خدمتونو" ته **په ۱۱۱ شمیره زنګ ووهئ او ۲ شمیره انتخاب کړئ.** دا خدمتونه د ویلز په ټولو برخو کې (۷ ورځې ۲۴ ساعته) شتون لري ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې څوک چې ملاتړ ته ډیره اړتیا لري وکولی شي ژر تر ژره لاسرسی ورته ومومي.

په ویلز کې، د "کال" مرستندویه کرښه (۷ ورځې ۲۴ ساعته) پرانیستي ده، د احساساتی ملاتړ او مشورې لپاره.
د "کال" وړیا کرښې شمیره ۰۸۰۰۱۳۲۷۳۷ ده یا تاسو کولی شئ د ذهني روغتیا او هوساینې په هکله دلته معلومات ترلاسه کړئ: https://www.callhelpline.org.uk/

نور معلومات کیدی شي دلته ومومندل شي: NHS 111 Wales - Mental Health and Wellbeing.

-

**دیویس ویلز**
د دیویس ویلز لټون پاڼه کولی شی ستاسو سره د ځایی مهاجرینو، کډوالو او پناه غوښتونکو د ارګانونو او داسې موسساتو په موندلو کې مرسته وکړي چې د نورو اړتیاو لپاره ملاتړ وړاندې کوي: Dewis.wales

د نظر ورکولو یا د دغه معلوماتي پاڼې د تر وخته کولو لپاره مهرباني ایمیل وکړئ: WSMPComms@wlga.gov.uk